# التکاثر

**مکی سورة دی ۸ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

أَلۡهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ ﴿١﴾

**تاسو( د دنیوی ګټو د زیاتوالی او خپلې اجتماعی او نظامی برترۍ د ټینګښت په مینه کې له دینی مسؤلیتونو او آخرت څخه) غافل شوی یاست.**

حَتَّىٰ زُرۡتُمُ ٱلۡمَقَابِرَ ﴿٢﴾

**تر هغه چې (له مرګ سره سم) قبرونو ته ورسئ( او د خپل دغه عمل په ناوړو عواقبو پوه شئ).**

كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ﴿٣﴾

**نه-( دا درته لازمه نه ده) بیشکه ډیر زر به( د خپلو ناوړو اعمالو په نتایجو) وپوهیږئ.**

ثُمَّ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ﴿٤﴾

**بیا هم( درته لازمه نه ده) ډیر زر ده چې (د خپلو ناوړو اعمالو په عواقبو) وپوهیږئ.**

كَلَّا لَوۡ تَعۡلَمُونَ عِلۡمَ ٱلۡيَقِينِ ﴿٥﴾

**نه-( حقیقی ژوند دا نه دی چې تاسو یې ګومان کوئ) که تاسو په علم یقین سره( چې مؤثق او غیر قابل تردید علم دی) پوهیدئ( نو هرومرو به مو دینی مسؤلیتونو او د خپل آخرت د نیکمرغه کولو لپاره هلې ځلې کولی).**

لَتَرَوُنَّ ٱلۡجَحِيمَ ﴿٦﴾

**( که غواړئ که نه غواړئ) دوزخ به ووینئ.**

ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيۡنَ ٱلۡيَقِينِ ﴿٧﴾

**بیا به مو( هغه ته په ورتګ سره) د باور او یقین سترګې روښانه شی.**

ثُمَّ لَتُسۡـَٔلُنَّ يَوۡمَئِذٍ عَنِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٨﴾

**او بیا به په هماغه ورځ درنه د درکړی شویو نعمتونو حساب کتاب وغوښتل شی.**

**« تمت سورة التکاثر بفضل الله و رحمته»**

**====================**